مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۲/۲۷

# یو ځل بیا ټپـیـزه

## د خلکو درد د ټپیزو پر وزرونو

په ملا شي مات په زړه اوبه شي
زړه ـ زړه، اره ـ اره شـــــــــي
پــه کــرونــا مرض اخـتـه شي
عــبــدالله پــړمـخـي چــپــه شي
چي جنازې ته دي ځوک وړاندی نه درځینه

*****

حــامـد کـــرزي سره جـوړه شي
اخــتــه د چـرسو پـــه نـشـه شي
خپل خوږ استاد خوا کي ډیره شي
عــبــدالله ژړ ـ ژړ پـــه پرده شي
د شـــرم گـــودیـه تـــا به چیـرته پټوونه

د ۲۰۲۰ ام کال د فبروری پر ۲۷مه نېټه مي د ښاغلي آرش ننگیال په فیسبوک پاڼه کي یو څو «ټپېزي» ترسترگو شوي، په بېړه مي ولوستلي او ومي لېدل چي ښکنځه د خلکو د فکر نیلی پرته له ډاره، مخ پر ولاندي ځغاستونکی دی او حقایق داسي په زړه پورې بیانوي چي د هنر او ژورنالیزم هیڅ ژانر یې نه شي انځورولی.

ښاغلي آرش ننگیال د ښاغلي نظیر انگار یو څو «ټپیزي» د بل چا له پاڼي څخه را پور کړې او په خپله فیسبوکپاڼه کي یې خپرې کړې وې، چي د ده له برکته تر ما پورې هم راورسېدې، چي اوس دا کرښې پرې لیکم:

هره ټپیزه له پنځو مصراعو څخه جوړه وي چي څلور لومړنی دا یې لکه د لنډۍ لومړی نیم بیتی نهه سیلابه او وروستی دا یې بیا هم لکه د لنډۍ دویم نیم بیتی دیارلس سیلابه وي. زما له نظره ټپیزه د پښتو لنډیو د ماتو هډوکو د سره بیا نښلولو په پایله کي رامنځته شوې ده. د ټپیزې د شاعر مهارت دا دی چي څلور لومړني بیتونه باید د موضوع له پلوه خپلو منځو کي همآهنگي ولري او بیا دا څلور واړه د ټپیزې له وروستی برخي یعني د یوې لنډۍ دویم نیم بیتي سره هم تړاو ولري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

ما پخوا هم د پښتو ادب په بڼ کې د دې نوي ګل «ټـپـیـزې» د غوړېدو په باب یو څه لیکلي و او د مبتکرینو په باب مې یې یوه لنډه څېړنه کړې وه؛ بده به نه وي چې یوه برخه یې ښاغلي نظیر انګار ته د منسوبو ټـپـیـزو د خپرېدو په پار دلته یو ځل بیا را واخلم:

په دې ورستیوکې د «ټپیزه» په نامه یو نوی شعري ژانر سر راپورته کړی دی. د دې شعرد هر بند په وروستی برخه کې لنډۍ را اخستل کیـږي. پوهاند دکتورمجاور احمد زیار ځان د دې آزاد شعر«ټپیزه» باني او موسس ګڼي.

(زیار،پوهاند دکتورمجاوراحمد، پښتو بدلمیچ (پښتو شعر څنګه جوړیږي؟)، دانش خپرندویه ټولنه، دویم چاپ،۲۰۱۰زکال، ۲۷۵ مخ)

دا ادعا یې په خپل اثر«پښتو بدلمیچ (پښتو شعرڅنګه جوړیږي؟) » کې کړې ده او بیا یې د «پښتو ټپیزه د جاپاني هایکو تر څنګ یو منلی نوی شعري خیل دی» ترسرلیک لاندې مقاله کې، چې د دوه زره دولسم کال د مارچ په اتمه یې په افغان جرمن ویبسایت کې خپره کړې ده، د ټپیزې په ابداع او مهم والي باندې ټینګار هم کړی دی.

خو په یوه بله لیکنه کې ښاغلی فرید احمد تسکین د دې نوي شعري ژانر(ټپیزه) نوښتګر ډاکتر حنیف حیران بللی دی.

دلته ما دغې موضوع ته ځکه څنګځني اشاره وکړه چې په دغه نوي شعر(ټپیزه) کې لنډۍ یا د لنډۍ یو نیم بیتی را اخستل کیږي. دا چې څومره فرهنګیان به له لنډۍ نه د دې ډول پور اخیستنې او کارونې سره موافق وي او څومره به مخالف وي، دا به راتلونکو کې مالومه شي. زه د اوس له پاره د ټپیزې د نوي ژانر او په هغه کې د لنډۍ ورګډولو باندې څه نه وایم، ځکه چې دا یو جلا او اوږده بحث ته اړتیا لري

زما په را نقل شوې لیکنه کې اشاره وشوه چې ښاغلی تسکین د «ټپیزې» مبتکر ډاکتر حنیف حیران ګڼي. ښاغلي تسکین داسې لیکلي دي:

«د ټپه ایزې دغه فورم څومره چې زه خبر یم یا ډېر شمېر د ادب لارویان پرې متعقد او همغږي دي د دې فورم د تخلیق او د هنریت زیور د نوښت ګام ډاکتر حنیف حیران ته رسیږي.

یو شمېر شاعران د دې فورم نوښت او تخلیق د ځان په ګټه بولي ولې ما چې د ټپه ایزې نوي فورم هغه مهال چې د دې فورم نوم نه چا اوریدلی و او نه مې د چا له خولې اوریدلې ده؛ خو ټپه ایزې چې ما په لومړي ځل ولوستلې د ډاکتر صیب حیران په خپل شخصي ویبلاګ (پکتیا په ډاګ کې) وې»

ښاغلي تسکین د ویبلاګ نوم ښوولی دی، خو له بده مرغه چې لینک یې نه دی ایښی چې لوستونکي مراجعه ورته وکړي او وې ګوري چې د زیار خبره او ټپیزې پخوانی دي، که د حنیف حیران په ویبلاګ کې راغلي ټپیزې.

په پښتو شعر کې د دې نوي شعري فورم په رامنځ ته کیدو سره، د هغه مخالفین او موافقین هم رامنځ ته شول. چا تایید کړ او ځوک یې د ځانګړو دلایلو له مخې پرضد ودریدل. د اوس له پاره د مخالفینو او موافقینو د شمېر مالومول یو څه ګران کار دی، خو کله نا کله په میډیا کې د دواړو ډلو غړونه له خپلو دلایلو سره جګ شوي دي.

په هر ډول چې وي، اوس کله، کله ځینې ښاغلي د همدې شعري ژانر په قالب کې خپلې خبرې او فکر ټولنې ته وړاندې کوي، چې دا دی اوس ښاغلي نظیر انګار خپل غږ د همدې شعري قالب په چوکاټ کې وایسته.

د لته لیدل کیږي چې په دې نوي رامنځته شوي شعري فورم کې په افغانستان کې تازه سیاسي حالات او رواني سیاسي نا خوالې او جفاګانې او ورسره نور طبعي او یا هم د انسانانو له لوري رامنځته شوې افات (کورونا یا کووید-۱۹) څنګه په دې نوي شعري فورم کې بیان شوي دي او د لنډیو له انداموނو نه راغوخ کړای شوي بندونه څنګه په ماهرانه ډول څنګ په څنګ ابېنودل شوي او د محتوی له پلوه بیان داسې په کې راغلی چې د ټپیزې هر بند د خلکو دردونه بیانوي او د خلکو د زړه آواز او چټوې.

دا هم د ښاغلي نظیر انګار د پنځو ټپیزو متن چې ما د ښاغلي آرش ننګیال له فیسبوک پاڼې څخه رااخیستي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

# تـپـيـزې

په ملا شي مات په زړه اوبه شي
زره ـ زره، اره ـ اره شــــــــي
پــه کــرونــا مــرض اخـتـه شي
عــبــدالله پـــړمـخي چـپـه شي
چې جنازې ته دې ځوک وړاندې نه درځينه

*****

د ګلبدين غوندي زړه خوږين شي
لـکـه سياف غـوندې غــمګين شي
ظـاهـرقـديـرغـونـدې مجنون شي
عبدالله غـبـرګـوبـانـدی وړون شي
چــې تــولـتـاکـني درنــه دمــه ووهــيــنــه

*****

حــامـد کـــرزي سره جـوړه شي
اخــتــه د چـرسو پـــه نـشـه شي
خپل خوږ استاد خوا کې ديره شي
عـبـدالله ژر ـ ژر پـــه پـرده شي
د شـــرم کـــوډيــه تـــا به چيرته پټوونه

*****

سترې ستومانــه پـه عـذاب شي
لـــه غـــمـــه وچ لـکـــه ربـــاب شي
لاهـو د فــکــر پـــه درياب شي
عـبـدالله وسوځـې کــبــاب شي
ارګ تـــه د تـلـو دې پـــوره مشه ارمانونه

*****

پزه دې پرې که سر دې مات شه
سرخي پـوډر درنــه ميرات شه
لـعـنـت د تــا پـــه داسې ذات شه
عبدالله مـــړی بـــی اسقاط شه
زمــوږغـنـــې بابا دې ډيـر وزوراونه

نظير انګار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ